مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

انجینر داؤد اڅک ۲۰۲۲/۰۹/۱۸

# ژبه هم کلا ده، هم بلا

تېغ د ژبي د خنجر په شان څيرل کـړي
پر زړه باندي توپک غوندي ويشتل کړي

د خنجر او د توپـک زخمونه جوړ سي
خو د ژبي داغ، تر ژونده ځورول کړي

هر ناطق چي په قصدي د ژبي وار کړي
عقلي نـده، حيـواني غـوندي اتـکل کړي

مرحم دي او دارو دي مسيحا ئې بـوله
خوږه ژبـه، زخمي زړونه درمـل کړي

«خپلـه ژبـه هم کـلا ده هـم بلا ده»
دا اصل دی، پر هر انسان عمل کړي

شرعه پر زړه نه، حساب کوي پر ژبه
پر دغـه قانون ټول جهـان تکل کـړي

ممنون دي له قلمه يم داؤده هوابـــازه
چي ژبه ئې په رنګا رنګ ليکل کړي

انجینر داؤد اڅک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ